# هغه څوک ایمان نه لري چې امانت نه لري او هغه څوک دین نه لري چې ژمنتیا نه لري

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې هېڅکله موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه نده ویلې مګر دا چې ویل به یې: «هغه څوک ایمان نه لري چې امانت نه لري او هغه څوک دین نه لري چې ژمنتیا نه لري».

[حسن لغیره دی] [احمد روایت کړې دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکوي چې ډېر لږ به داسې شوي وي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه ویلي وي او یا یې وعظ کړی وي او د دې دوو خبرو یادونه یې نه وي کړې: لومړی: هغه څوک د بشپړ ایمان خاوند کېدلی نه شي چې په نفس کې د یو چا مال، نفس او یا یې کورنۍ ته خیانت ولري. دویم: هغه څوک بشپړ دین نه لري چې تړونونو او ژمنو کې خیانت کوي او ماتوي یې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66251